## وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

## د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

### د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

# خبرپاڼه خبر نامه

**13قوس_سال 1403**





# اخبار مهم

افغانستان - منطقه - جهان

# فهرست مطالب

**عنوان** **صفحه**

**یو ورځنی ورکشاپ جوړ شو -------------------------------------------- 1**

**معین مسلکی وزارت امور مهاجرین، با معاون والی ولایت نیمروز، دیدار نمود -------------------- 2**

**د مهاجرینو چارو مسلکي مرستیال د نیمروز د سرحدي امریت چارو او د لندمهالي استوګنې مېشتغالي لیدنه وکړه ----- 2**

**معین مسلکی وزارت امور مهاجرین، ازجریان کار پروژه های انکشافی، در ولایت نیمروز، نظارت بعمل آورد --------- 3**

**نشستی با اعضای کمیته انتقال بیجاشده ها به محلات اصلی شان، در وزارت امور مهاجرین و عودت کننده گان برگزارشد 4**

**نشست کمیته ادغام مجدد ولایتی در ولایت جوزجان دایر گردید -------------------------- 5**

**سفارت افغانستان در اسلام‌آباد: مهاجران افغان در پاکستان در هیچ فعالیت سیاسی دخیل نبوده‌اند---------------- 6**

**اخراج و برگشت مهاجران افغان؛ بیش از دوصد خانواده وارد افغانستان شدند -------------------- 7**

**د فرانسې د کورنیو چارو وزیر شمالي سواحلو کې د امنیتي تدابیرو د ډېرېدو خبر ورکوي-------------- 8**

خبرنامه

# متن کامل اخبار

## یو ورځنۍ ورکشاپ جوړ شو

د وزارت ویب سایت



**د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت د پلان او پالیسۍ ریاست له لوري د مرکزي رییسانو، آمرانو او مدیرانو لپاره د پلان ورکونې او پلان ترتیب یو ورځنۍ ورکشاپ د مهاجرینو چارو وزارت د کنفرانسونو په تالار کې جوړ شو.**

**د وزارت مالي او اداري مرستیال شیخ کلیم الرحمن فاني د اسلام د سپیڅلي دین له نظره د پلان د ارزښت په اړه خبرې وکړې او ویې ویل: پلان په یوه اداره کې د یوې اړینې موضوع لپاره جوړېږي او له مخې یې کارونه مخ ته وړل کیږي .**

**د کایناتو نظام او د پېغمبرانو ټولې چارې د یو پلان له مخې رامنځته شوې دي او تر وروستۍ ورځې پورې به دوام لري.**

**هغه د پلان شتون د اسلام له نظره مهم او ارزښتناک وباله او زیاته یې کړه: که پلان سم وي، موږ به بریالي شو او مطلوبه نتیجه به ترلاسه کړو.**

**ورپسې د وزارت د پلان او پالیسۍ رییس مولوي محمودالحق احدي د پلان ریاست ستراتیژیکې موخې تشریح کړې او زیاته یې کړه: د دغه ریاست په تعاملاتو او فعالیتونو کې ټول کارکوونکي شریک دي او دا ټولې چارې شریکې دي او له یو کس پورې تړلې نه دي.**

**هغه زیاته کړه، د پلان ریاست هڅه کوي، چې پلان ګام په ګام پلی کړي، چې دایمي او باثباته خدمتونه وړاندې کړي.**

**بیا د پلان آمر حکمت الله رحیمي د پلان د فارمټ او تشریح په برخه کې پریزنټیشن ورکړ. کلنۍ پلان یې تشریح کړ او ورکشاپ د دعا په ویلو سره پای ته ورسید.**

## معین مسلکی وزارت امور مهاجرین، با معاون والی ولایت نیمروز، دیدار نمود

ویب سایت وزارت



**الحاج مولوی عبدالرحمن راشد، معین مسلکی وزارت امور مهاجرین و عودت کننده گان، د رادامه سفرش به ولایت نیمروز، با سید سلیمان آغا، معاون والی آن ولایت دیدار نمود.**
**در این دیدار که غلام نبی الله داد خیل ستانکزی رییس حمایت حقوقی، اعضای تیم تخنیکی وزارت و رییس مهاجرین ولایت نیمروز حضور داشتند در مورد حل مشکلات مهاجرین و بیجاشدگان داخلی در آن ولایت گفتگو صورت گرفت.**
**معاون والی نیمروز از همکاری اش به آقای راشد در حل مشکلات عودت کنندگان و بیجاشدگان اطمینان داد.**

## د مهاجرینو چارو مسلکي مرستیال د نیمروز د سرحدي امریت چارو او د لنډمهالي استوګني مېشتغالي لیدنه وکړه

د وزارت ویب سایت



د مهاجرینو چارو مسلکي مرستیال الحاج مولوي عبدالرحمن راشد سره نیمروز ولایت ته د سفر پرمهال د وزارت د حقوقي ملاتړ رییس الحاج غلام نبي الله دادخېل ستانکزي او د نیمروز د مهاجرینو رییس حاجي عبدالله ریاض هم ملتیا کوله، چې د نیمروز د سرحدي آمریت او د لنډمهاله استوګنې مېشتغالي لیدنه یې وکړه.
ښاغلي راشد په دغه ښارګوټي کې د مهاجرینو چارو د آمریت د کارونو ارزونه وکړه او د لنډمهاله استوګنې مېشتغالي کې یې د راستنېدونکو مهاجرینو لپاره، د تثبیت، لنډمهالې میشتېدنې، روغتیا، خدمتونو، کارمونډنې او نورو ورته کاري کمېټو کارونه له نږدې وکتل او اړونده مسولینو ته یې لازمې سپارښتنې وکړې.

## معین مسلکی وزارت امور مهاجرین، ازجریان کار پروژه های انکشافی، در ولایت نیمروز، نظارت بعمل آورد

ویب سایت وزارت



الحاج مولوی عبدالرحمن راشد معین مسلکی وزارت امور مهاجرین وعودت کنندگان، در ادامه سفرش به ولایت نیمروز، از جریان کار 3 پروژه انکشافی در آن ولایت، نظارت بعمل آورد.

پروژه های انکشافی یاد شده شامل اعمار یک باب مکتب و دو باب مراکز صحی در محلات مرکزی و ولسوالی دلارام آن ولایت میباشد که با حمایت مالی کمیشنری عالی سازمان ملل متحد در امور پناهنده گان با هزینه 8 صدو 96 هزارو 201 دالر امریکایی به اساس تفاهم نامه های منعقد شده توسط موسسه زنان برای زنان و وزارت امور مهاجرین و عودت کننده گان قبلاً آغاز شده است و قرار است که به زودی به بهره برداری سپرده شود.

آقای راشد در این نظارت، بر معیاری بودن بهتر مراکز یاد شده به مسوولان هدایات لازم داد.

## نشستی با اعضای کمیته انتقال بیجاشده ها به محلات اصلی شان، در وزارت امور مهاجرین و عودت کننده گان برگزارشد

ویب سایت وزارت



**نشستی با اعضای تیم تخنیکی کمیته انتقال بیجاشده ها به محلات اصلی شان، پیرامون انتقال یک صدو 11 خانواده بیجاشده از شهر کابل به ولایت کندز که قبلاً پروسه بایومتریک آن تکمیل شده است بر ریاست مولوی سردار شیرزاد رییس رسیده گی به وضعیت بیجاشد گان داخلی وزارت برگزار شد.**
**اعضای این نشست را نمایند های سازمان بین المللی مهاجرت، کمیشنری عالی سازمان ملل متحد در امور پناهنده گان، اداره هماهنگ کننده کمک های بشری سازمان ملل متحد، برنامه اسکان بشری سازمان ملل و انجمن مهاجرین ناروی تشکیل میدادند.**
**آقای شیرزاد اعضای تیم یاد شده را خوش آمدید گفته هدف نشست امروزی را انتقال بیجاشده ها به محلات اصلی شان خوانده افزود: یکی از اهداف بزرگ وزارت امور مهاجرین و امارت اسلامی این است تا بیجاشده گان داخلی را با عزت و یک ترتیب منظم به مکان های اصلی شان انتقال دهیم که از آن جمله یک صدو 11خانواده پس از پروسه بایومتریک آماده انتقال از شهر کابل به محل اصلی شان در ولایت کندز میباشند.**
**اعضای تیم و شاملین نشست امروزی از آماده گی شان مبنی بر همکاری های بیشتر در بخش های خوراکی، نقدی پرداخت کرایه انتقال و سایر خدمات اولیه بشری برای خانواده های بیجاشده تعهد سپردند.**

## نشست کمیته ادغام مجدد ولایتی در ولایت جوزجان دایر گردید

ویب سایت وزارت



**نهمین نشست کمیته ادغام مجدد ولایتی ولایت جوزجان تحت ریاست نورالدین عمیر معاون والی و با اشتراک نماینده های ادارات ذیربط دولتی و مؤسسات در سالون جلسات مقام ولایت برگزار گردید.**
**ملا امان الله طلحه رئیس امور مهاجرین ارقام عودت کنندگان را که از کشور های ایران، پاکستان و ترکیه از برج سرطان الی قوس سال روان هجری خورشیدی ثبت سیستم دیتابیس ریاست مهاجرین گردیده است برای اشتراک کنندگان بیان و از کمک های مؤسسات و بنیاد های خیریه سپاس گزاری نمود.**
**بعداً نماینده دفتر اوچا در قسمت پاسخ‌دهی و کمک برای فامیل های عودت کننده که قبلا توسط مؤسسات و با هماهنگی ریاست مهاجرین سروی صورت گرفته بود خواهان توجه و کمک شد.**
**معاون والی جوزجان از نهاد های ملی و بین المللی خواهان کمک در فصل سرما برای مهاجرین در آن ولایت شده و تاکید بیشتر در قسمت کاریابی و اشتغالزایی جهت خود کفایی برگشت کننده گان در آن ولایت شد.**

## سفارت افغانستان در اسلام‌آباد: مهاجران افغان در پاکستان در هیچ فعالیت سیاسی دخیل نبوده‌اند

آژانس اطلاعاتی باختر




**سفارت امارت اسلامی افغانستان در اسلام‌آباد تاکید کرده است که مهاجران افغان در پاکستان هرگز در هیچ گونه فعالیت سیاسی و یا رویداد جرمی دخیل نبوده‌اند.**

**این سفارت در بیانیه‌ی اعلام کرده است که نام بردن از اتباع افغان به گونه مکرر در اعتراضات اخیر اسلام آباد از سوی وزارت امور داخله پاکستان و برخی دیگر از مقامات آن کشور و همچنان افزایش محدودیت‌های دیگر، مهاجران افغان مقیم پاکستان را نگران کرده که شاید تحت همین نام، بار دیگر افغانان به ناحق با آزار و اذیت گسترده از سوی پولیس پاکستان مواجه شوند.**

**در بیانیه آمده است که مهاجران افغان در پاکستان هرگز در هیچ گونه فعالیت سیاسی و یا رویداد جنایی دخیل نبودند و آنان همیشه مسالمت آمیز زندگی کرده‌اند و سهم مثبتی در اقتصاد پاکستان داشتند، همچنان آنان هرگز نمی‌خواهند وارد فعالیت‌های سیاسی و اعتراضات عمومی شود.**

**سفارت امارت اسلامی افغانستان همچنان با ابراز نگرانی عمیق از اظهارات اخیر مقامات پاکستانی از حکومت آن کشور خواست که چنین فضای بی‌اعتمادی در برابر مهاجران افغان ایجاد نشود که منجر به آزار، بدنامی و بی‌جایی اجباری آنان شود. این به نفع پاکستان هم نیست، بلکه می‌تواند بی‌باوری میان دو کشور همسایه را بیشتر افزایش دهد.**

## اخراج و برگشت مهاجران افغان؛ بیش از دوصد خانواده وارد افغانستان شدند

خامه پرس



به دنبال اخراج مهاجران اهل افغانستان از کشور های همسایه، وزارت امور مهاجران از اخراج بیش از دوصد خانواده از پاکستان و ایران خبر داد.

خبرگزاری باختر امروز( سه‌شنبه، 13 قوس) گزارش داده که به تعداد دوصدو دوازده خانواده افغان از طریق ولایت قندهار، ننگرهار، نیمروز و هرات به کشور برگشتند.

این وزارت افزوده که این خانواده ها، هنگام بازگشت به کشور، از سوی کمک دریافت کردند و برای دریافت کمک های بیشتر، به نهاد های کمک رسان داخلی و بین المللی، معرفی شدند.

مهاجرین افغانستان در حالی از کشور پاکستان  اخراج می‌شوند که روند اخراج مهاجرین اهل افغانستان از کشور های همسایه به ویژه ایران و پاکستان در ماه‌های پسین افزایش  چشمگیری داشته است.

روز گذشته نیز وزارت امور مهاجران از اخراج ده ها خانواده و برگشت آنان دوباره به کشور خبر داده بود.

## د فرانسي د کورنیو چارو وزیر شمالي سواحلو کي د امنیتي تدابیرو د ډېرېدو خبر ورکوي

مهاجرنیوز



د فرانسې د کورنیو چارو وزیر برونو روتایو پا دو کالې ته د سفر پر مهال اعلام وکړ چې په نږدې راتلونکي کې د شمالي سواحلو په اوږدو کې امنیتي تدابیر ډېرېږي. دغه چارواکي دا هم وویل چې له نامنظمې کډوالۍ سره د مبارزې مسولیت د او – دو – فرانس سیمې د دفاع او امنیت قومندان ته سپارل کېږي .

د فرانسې د کورنیو چارو وزیر برونو روتایو د جمعې په ورځ د نومبر ۲۹ امبلتوز ته د سفر پر مهال خبرداری ورکړ چې د انګلیس کانال له لارې د کډوالو د نامنظمو سفرونو په اړه له لندن سره جدي خبرو ته اړتیا شته. نوموړي د شمالي سواحلو په اوږدو کې د امنیتي تدابیرو د ډېرېدو او د کډوالو په چارو کې د ځانګړي استازي د ګومارېدو خبر ورکړ. هغه همدا راز وویل چې له نامنظمې کډوالۍ سره د مبارزې مسولیت د او – دو – فرانس سیمې د دفاع او امنیت قومندان ونسان لګوګي ته سپارل کېږي .

له دې وړاندې د کالې، سانګت او مارک په ګډون د شمالي سیمو یو شمېر ښاروالان له حکومت څخه د کډوالۍ د مسلې د مدیریت لپاره د نوي قومندان د ټاکلو غوښتونکي شوي وو. دغو ښاروالانو د نومبر په ۲۰مه د یوې اعلامیې په خپرولو سره له حکومت څخه غوښتنه کړې وه چې انګلیس کانال کې د روان وضعیت په اړه جدي دریځ غوره کړي.

په دغه اعلامیه کې راغلي وو چې د یادو سیمو ښاروالان ځان یوازې احساسوي او له امکاناتو پرته د یوې داسې ستونزې د هوارولو هڅه کوي چې مسولیت یې د حکومت پر غاړه دی. د سانګت ښاروال ګې المان ویلي وو: «پنځه لس کاله کېږي چې زه د ښاروال په توګه ټاکل شوی یم، خو وضعیت ورځ تر بلې خرابېږي«.

د کورنیو چارو وزارت په پام کې لري چې د کډوالو له قاچاق سره د مبارزې اداري یا اولتیم، سرحدي پولیسو یا پف او د کالې او دنکرک قومندانیو سره د همکاریو د زیاتولو او همدارنګه په سرویسونو او رېل ګاډو کې د تلاشیو او ګزمو د ترسره کولو په موخه شاوخوا ۲۰۰ نوي کسان وګوماري .



**د توکې په ترړون بیا کتنه**

**د فرانسې د کورنیو چارو وزیر له برېتانیا څخه غوښتنه وکړه چې د خپلې پولې د ساتلو دنده فرانسې ته ونه سپاري. دا خبره په داسې حال کې کیږي چې تمه ده د دېسمبر په ۹مه د برېتانیا د کورنیو چارو وزیره پرېتي پټیل کوپر د کډوالۍ په اړه د خبرو اترو لپاره پا دو کالې ته سفر وکړي .**

**برونو روتایو دا هم وویل چې «بریگزیت د برېتانیا له حکومت سره تولې مهاجرتي اړیکې له منځه یووړې«، له همدې کبله اوس برېتانیا ته د کډوالو د ورتګ لپاره یوې داسې «قانوني لارې» ته اړتیا شته چې «د اقتصادي او یا د کورنیو د یو ځای کېدو پر معیارونو برابره وي .«**

**دغه چارواکي زیاته کړه چې د لندن او پاریس ترمنځ د توکې په ترړون باید بیا کتنه وشي. د دغه سند له مخې، چې په ۲۰۰۳ کې لاسلیک شوی دی، کالې ښار د برتانیا د سرحد په توګه پېژندل کیږي. د توکې ترړون له لاسلیک کېدو راهیسې، د فرانسې او برېتانیا حکومتونو د کډوالو د سفرونو د مخنیوي لپاره بېلابېل ترونونه لاسلیک کړي دي.**

**ټاکل شوې ده چې د فرانسې د کورنیو چارو وزیر د دېسمبر په ۱۰ له برېتانوي چارواکو سره د خبرو اترو لپاره لندن ته سفر کوي. په دغه غونډه کې به د هالنډ، جرمني او ایرلنډ چارواکي هم حضور ولري. دغه سفر داسې مهال ترسره کیږي چې لندن تېره اونۍ وویل غواړي د کډوالۍ په سیستم کې بدلون رامنځته کړي او په راتلونکي کې د کډوالو د شمېر د کمولو لپاره نوی پلان عملي کړي.**



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

د پا دو کالې د قومندانۍ د شمېرو له مخې، د روان کال د جنورۍ له لومړۍ نېټې راهیسې لږترلږه ۷۲ کډوال برېتانیا ته د اوښتو پر مهال مړه شوي دي. د کورنیو چارو وزیر وویل چې «دغه تراژدي د زغم نه ده».

په شمالي سیمو کې د کډوالو د ملاتړ سازمانونه بیا په سمندر کې د کډوالو د ژغورنې لپاره د امکاناتو د زیاتولو غوښتنه کوي. دغه سازمانونه وایي چې حکومت د سواحلو په اوږدو کې پوځي تدابیر زیاتوي، خو دغه پالیسي بې اغېزه ده. د اوبرژ دو میګران د همغږۍ کوونکې فلور ژودې په خبره، له دې مخکې برېتانیا یو شمېر ورتلونکي کډوال مجرم بللي دي، خو دغه سیاست د مهاجرو پر سفرونو اغېز نه دی کړی .

خبرنامه